# دَ تیطوس په نُوم دَ پولوس رسُول خط

## سلام

١ ① دا خط دَ پولوس دَ طرفه دے چه دَ خُدائے غُلام اَؤ
دَ عیسیٰ مسیح رسُول دے.

زَۀ دَ دے دَ پاره مُقرر کړے شوے یم چه دَ خُدائے په غوره
شوو کښے دَ ایمان دَ راوړلو وسیله جوړ شم اَؤ دَ دینداریٔ
پُوره رښتینوالی په هغویٔ څرګنده کړم. ② دَ هغه بُنیاد دَ تل
ژوندُون اُمید دے، اَؤ خُدائے چه هیڅکله دروغ نۀ وائی، مُونږ
سره دَ هغه ژوندُون وعده له ازل نه وکړه. ③ اَؤ بیا خُدائے
دَ خپل ټاکلی شوی وخت په مُطابق دَ خپل پیغام په وسیله
هغه ښکاره کړو. دا پیغام ما ته وسپارلے شو اَؤ زَۀ دَ خپل
خلاصوُونکی خُدائے په حُکم دا آؤرم.

④ دا خط زَۀ دَ تیطوس په نُوم لیکم چه ما سره په شریک
ایمان کښے زما رښتینے زوئے دے.

دَ خُدائے پلار اَؤ زمُونږ دَ خلاصوُونکی مسیح عیسیٰ فضل اَؤ
سلامتی دِ په تا وی.

## دَ تیطوس کار په کریت کښے

⑤ ما په کریت کښے تۀ دَ دے دَ پاره پریښے وے چه تۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاتے شوے کار پُوره کړے اَؤ زما دَ حُکم په مُطابق ښار په
ښار داسے مشران مُقرر کړے، ۶ چه څوک بے اِلزامه اَؤ
دَ يوے ښځے خاوندان وی، اَؤ بچی ئے ايمانداره اَؤ دَ
بدچلنئ اَؤ دَ نافرمانئ دَ اِلزام نه پاک وی. ۷ ځکه چه دَ
جماعت مشر دَ خُدائے دَ کار دَ مُختار کيدو په وجه دِ بے
اِلزامه وی، چه هغه دِ نۀ خودغرضه، نۀ غُصه ناک، نۀ
شرابی، نۀ جګړه مار، اَؤ نۀ دِ دَ ناجائزے ګټے حرصناک
وی. ۸ بلکه هغه دِ ميلمه پالُونکے، نيک خواه، تقویٰ دار،
مُنصف مزاجه، پاک اَؤ صبرناک وی. ۹ کُوم کلام چه
هغۀ ته ورزده کړے شوے دے، هغه دِ دَ دے لائق وی، چه
خلق په هغۀ باور کولے شی. نو په کار دی چه مشر په دے
کلام قايل وی چه هغه په صحيح تعليم ورکولو نصيحت هم
کولے شی، اَؤ مُخالفان قائل کولے هم شی.

۱۰ ځکه چه ډير خلق نافرمانه، بدزبانه اَؤ دوکه باز دی،
خاص دَ نوؤ ايمان راوړُونکو يهُوديانو په مينځ کښے. ۱۱ دَ
دوئ خُلۀ بندول په کار دی ځکه چه دا خلق دَ ناجائزے ګټے
دَ پاره ورانے خبرے ورزده کوی اَؤ دغه شان کورُونه اَؤ
خيلخانے تباه کوی. ۱۲ لکه چه په دوئ کښے يو پيغمبر دا
وئيلی دی چه ”کريتيان هميشه دروغژن، وحشيان، ګېډه ور
اَؤ لټان دی.“ ۱۳ دا ګواهی رښتيا ده، نو هغوئ په دے ډير
ملامته کوه دَ دے دَ پاره چه دَ هغوئ ايمان ټينګ شی. ۱۴
اَؤ هغوئ دِ نۀ دَ يهُوديانو قيصو اَؤ دَ هغو سړو حُکمُونو ته
غوږ ږدی، چه دَ حق نه ګُمراه دی. ۱۵ دَ پاکو خلقو دَ پاره
ټول څيزونه پاک دی، خو دَ ګُناه ګارو اَؤ بے اِيمانه خلقو دَ
پاره هيڅ شے هم پاک نۀ دے بلکه دَ هغوئ عقل اَؤ ضمير

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دواړه پلیت دی. ١٦ هغوئ دَ خُدائے دَ پېژندلو دعویٰ کوی
خو په عمل کښے دَ هغۀ نه اِنکار کوی، ځکه چه هغوئ
مکروه اَؤ نافرمانه دی اَؤ دَ یو نیک کار قابل هم نۀ دی.

## صحیح تعلیم ورکول

٢ ١ خو تۀ هغه خبرے وربیان کړه کُومے چه دَ صحیح
تعلیم دَ پاره مُناسب دی، ٢ یعنے دا چه بُوډاګان دِ
پرهیزګاره، په خوئ درانۀ اَؤ تقویٰ دار وی، اَؤ دَ هغوئ ایمان
اَؤ مینه اَؤ صبر دِ صحیح وی. ٣ دغه شان دِ دَ بوډئ ګانو
ښځو ظاهری چال چلن دَ نیکانو وی، هغوئ دِ تور لګوُونکے
اَؤ زیات شراب څښونکے نۀ وی بلکه ښے خبرے ورزده
کوُونکے دِ وی، ٤ دَ دے دَ پاره چه ځوانانو ښځو ته
وښائی چه دَ خپلو خاوندانو اَؤ خپلو بچو سره دِ مینه ولری،
٥ اَؤ تقویٰ دارے، پاک لمنے اَؤ دَ کور کار کوُونکے اَؤ
مهربانی کوُونکے اَؤ دَ خپل خپل خاوند تابعدارے اوسی، دَ
دے دَ پاره چه دَ خُدائے کلام بدنام نۀ شی.

٦ اَؤ زلمو ته هم داسے نصیحت کوه چه هغوئ دِ تقویٰ
دار شی. ٧ په ټولو خبرو کښے خپل ځان دَ ښو کارُونو
یوه نمُونه جوړه کړه، ستا په تعلیم کښے دِ پاکوالے اَؤ
درُوندوالے وی. ٨ اَؤ ستا کلام دِ دومره صحیح وی چه
څوک په کښے څۀ وئیلے نۀ شی، دَ دے دَ پاره چه مُخالف
په مُونږ کښے څۀ عیب ونۀ مُومی اَؤ شرمنده شی.

٩ غُلامانو ته نصیحت کوه چه دَ خپلو مالِکانو حُکم دِ منی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اَؤ په هره خبره کښې دِ هغوئ خوشحاله ساتی اَؤ دَ هغوئ په
حُکم کښې دِ هيڅ کله تکرار نهٔ کوی، ١٠ غلا دِ نهٔ کوی بلکه
هميشه دِ ديانتداری په ښهٔ شان ظاهروی دَ دې دَ پاره چه دَ
هغوئ دَ مخه په هره خبره کښې زمُونږ دَ خلاصوُونکی
خُدائې تعليم عزت ومُومی.

١١ ځکه چه دَ خُدائې فضل دَ ټولو خلقو دَ خلاصون دَ پاره
ظاهر شوې دې. ١٢ اَؤ مُونږ ته دا ښائی چه بې دينی اَؤ
دُنياوی خواهشُونه پرېږدُو اَؤ په موجُوده جهان کښې په
پرهيزګارئ، صداقت اَؤ ديندارئ سره ژوند تير کړُو. ١٣ اَؤ
دَ هغه مُبارک اُميد، يعنې دَ خپل لوئې خُدائې اَؤ
خلاصوُونکی عيسىٰ مسيح دَ جلال دَ ظاهريدو په اِنتظار شُو،
١٤ چا چه خپل ځان زمُونږ دَ پاره ورکړو چه مُونږ دَ هر
قِسم نافرمانبردارئ نه خلاص کړی اَؤ پاک مو کړی، اَؤ په
خپل خاص ملکيت کښې مو يو داسې خلق وګرزوی کُوم
چه دَ ښهٔ کارُونو دَ پاره په کار آخته وی.

١٥ په پُوره اِختيار سره دغه خبرې کوه، خلقو ته نصيحت
کوه اَؤ ملامته کوه ئې. هيڅوک دِ هم تا ته په سپکه ونهٔ
ګوری.

## دَ ښهٔ کارُونو ساتنه کوه

٣ ١ خپلو خلقو ته دا وریاد کړه چه دَ حاکمانو اَؤ دَ
اِختيار دَ خاوندانو فرمانبرداری دِ کوی اَؤ دَ هغوئ حُکم دِ
منی اَؤ دَ هر ښهٔ کار دَ پاره دِ تيار ولاړ وی. ٢ دَ چا بد دِ نهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وائی، تکرار دِ نۀ کوی بلکه نرم مزاج دِ وی، اَؤ دَ هر چا سره
دِ ډیر په صبر خبرے کوی. ۳ ځکه چه مُونږ هم اول
ناپوهه، نافرمانه، ګُمراه اَؤ دَ قِسما قِسم خواهشاتو اَؤ دَ عیش
و عشرت بندیان وُو اَؤ په بد خواهئ اَؤ په حسد کښے مو
ژوند تیروو، دَ نفرت لائق وُو اَؤ دَ یو بل نه مو نفرت کاوو.
۴ خو هر کله چه زمُونږ خلاصوُونکی خُدائے فضل وکړو
اَؤ دَ اِنسان سره دَ هغۀ مینه ظاهره شوه، ۵ نو هغۀ مُونږ له
خلاصُون راکړو، خو دَ صداقت دَ هغه ښۀ کارُونو په سبب
نه، کُوم چه مُونږ په خپله کړی وُو، بلکه دَ خپل رحمت په
مُطابق اَؤ دَ نوی پیدایښت په وینځلو اَؤ دَ رُوحُ القُدس زمُونږ
دَ بیا دَ نوی کولو په وسیله. ۶ خُدائے رُوحُ القُدس زمُونږ دَ
خلاصوُونکی عیسیٰ مسیح په وسیله په مُونږ ډیر زیات نازل
کړو، ۷ دَ دے دَ پاره چه مُونږ دَ هغۀ په فضل صادِق
کړے شُو اَؤ دَ تل دَ ژوندُون دَ اُمید وارثان شُو.

۸ دا خبره رښتیا ده اَؤ زَۀ غواړم چه تۀ دَ دے خبرو تاکید
وکړے دَ دے دَ پاره چه چا چه په خُدائے ایمان راوړے
دے، هغوئ په ښو کارُونو کښے دَ بوختیدو خیال وکړی. دا
کارُونه غوره اَؤ دَ اِنسان دَ پاره سُود من دی. ۹ خو دَ بے
وقوفئ په بحثُونو، نسب نامو اَؤ جګړو اَؤ دَ هغه جنګُونو نه
چه دَ شریعت په حقله جوړیږی، ځان ساته، ځکه چه دا لا
حاصله اَؤ بے فائدے دی. ۱۰ دوه ځلے نصیحت کوه خو
بیا دَ بدعتی سړی نه ځان ساته. ۱۱ اَؤ په دے پوهه شه چه
داسے سړے بے لارے شوے دے اَؤ خپل ځان ئے مُجرم
کړے دے ځکه چه په ګُناه کښے ژوند تیروی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# شخصی نصیحتُونه اؤ سلامُونه

١٢ هر کله چه زَۀ تا ته ارتِماس يا تخيکوس درولېږم نو
نيکوپوليس ته دَ راتلو کوشِش وکړه ځکه چه ما هلته دَ ژمی
تيرولو نيت کړے دے. ١٣ دَ شرعے عالم زيناس اَؤ
اپولوس دَ را استولو کوشِش وکړه، په دے شان چه هغوئ ته
دَ څۀ څيز کمے رانۀ شی. ١۴ اَؤ زمُونږ خلق دِ هم په ښۀ
کارُونو کښے آخته وی، دَ دے دَ پاره چه حاجت پيښ شی
نو ورسره څۀ وی، اَؤ بے کاره دِ نۀ کښينی.

١۵ زما ټول ملګری تا ته سلام وائی. چه مُونږ دَ ايمان دَ
مخه خپل ګڼی، هغوئ ته زمُونږ سلام وايه.

په تاسو ټولو دِ دَ خُدائے فضل جاری وی.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © عام ١٩٩۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.